# د ليکني مجلې د موضوعاتو يوه تنقيدي جائزه(د ابتدا څخه تر جون ۲۰۱۸م پورې)

## A critical Review of the Topics of LEKANEE Magazine (From start to June 2018)

نيک محمد*

**Abstract:**

LEKANEE Magazine is a quarterly literary magazine of Pashto Academy Balochistan Quetta. It was released from Quetta on January 2014 under the chairmanship of Syed Khair Muhammad Arif. It aim to promote Pashto Standard Literature, as well as the interpretation of Pashtoon history, Culture, Tradition and national values. It has nothing to do with commercial gaim, competition arrogance, political maneuvering and imitation.In the early days of Lekanee magazine, however, his selected Titles were Fiction (Short Stories), Novel, Drama, Essay, Satire and humor, literary research and criticism, Sketch Story, book reviews, mysticism(Tasauf), biographical profile of authors, interviews, letters, poetry and other rare creations, thought full articles and excellent translation have gained immense popularity in the literary circle.After reading all the issues of the quarterly lekanee magazine, it can be said that the path of aesthetics which has been adopted in view of the development and promotion of Pashto literature from its compilation to its publication stages its own example. The quality and prestige of the magazine in the selection of prose articles and poetic creation is a master piece of journalistic literature.The visual and spiritual beauty of the magazine distinguishes the magazine from all the other magazine of pashtoon belt.

**Key words:** Lekanee, literary magazine, standard literature, journalistic literature, Pashtoon belt.

درې مياشتنۍ ليکني مجله د پښتو اکيډمۍ بلوچستان کوټې د پښتو ژبې، ادب،کلتور او تاريخ د ژغورنې،پالنې او پر مختګ د پاره د نيمې پېړۍ څخه د روانو خدماتو د تسلسل هغه کړۍ ده چې د دوه زره څوارلسم(۲۰۱۴م) ميلادي کال د جنورې د مياشتې څخه يې اشاعت پيل سوی دی چې تر اوس مهاله يې د خدماتو لړۍ دوام لري.ليکني مجله د موضوعاتو له پلوه ګڼ اړخيز ادبي مجله ده چې کلتوري،تاريخي،اصلاحي او په زيات شمېر ادبي موضوعات يې په پاڼو او ګڼو کې شائع کيږي چې د قام د هرې طبقې او عمر و جنس د انسانانو د ادبي ذوق اوبه خورکوي ځکه خو غازي سيال وائي.

"ليکني مې ډېره زياته خوښه ده د هر قسم او د هرې طبقې خوښه پکښې موجوده وي".(۱)

---

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.

او محبوب ګل یاسر بیا وائي چي.

"لیکني مجله یوه علمي او ادبي مجله ده د دې هر لیک په خپل ځای د ویاړ جوګه او پرتاثیره دی".(۲)

درې میاشتنۍ لیکني مجله د ژوند د نوو غوښتنو او جدید ادبي رحجاناتو په تناظر کي د پښتو ادب د پر مختګ د پاره چي کوم موضوعات او د هغو په چوکاټ کي کومي مقالې، مضامین او شعري مواد و پښتو ادبي نړۍ ته سپاري او د هغو موضوعاتو او جزیاتو یو تنقیدي جائزه په دغه سرلیکونو کي وړاندي کېدای لکه

(1) **د لیکني اداریې**:

اداریه د یوې مجلې،رسالې یا د هغه اداري پالیسي وي کومه اداره چي مجله خپروي. رسالې او مجلې د موضوعاتو او د مقاصدو له رویه توپیر لري نو له دې کبله یې د اداریې موخي او مقاصد هم بېل بېل وي. په ځینومجلو او رسالو کي اداریې د اولس د سیاسي، علمي او مسلکي شعور د بیدارولو او بیا پیاوړي کولو د پاره لیکل کیږي او په ځینو مجلو کي بیا اداریه د خپروندوي اداریې او د مجلې د مقاصدو او کړونو د اظهار او تشهیر د پاره لیکل کیږي.
خو د علمي او ادبي مجلې اداریه عموماً د مجلې د مندرجاتو د تعارف په اړه وي او ځیني ځیني اداریې یې د ادب د مسائلو،رحجاناتو او تګ لاري په اړه هم لیکل کیږي او د ادب د بېلا بېلو نظریاتو او میلاناتو په اړه بحث لري. کومه مجله چي د یو مخصوص فکر یا ډلي نمائندګي کوي د هغه په اداریو کي د خپل تنظیم یا ډلي د خیالاتو او نظریاتو د ترجمانۍ څرک هم تر سترګو کیږي که په دغه تناظر کي وکتل سي نو لیکني مجله خو یو خالص ادبي مجله ده چي هیڅ سیاسي او ډله ایز مقاصد نه لري او صرف د یو مقصد د پاره کار کوي چي پښتو ادب ته د نړیوال معیاري ادب په چوکاټ کي هغه ځای وګټي کوم چي د نړۍ د نورو قامونو و ژبو او ادب ته ور په برخه دی.
د لیکني مجلې اداریې د پښتو نثر د لوړي رتبې نمونې دي دغه اداریې که په هر نظر او ډول لیکل سوي دي د پښتو ژبي د ادب لویه برخه جوړه وي چي انکار یې کول لمر په ګوته پټول دی.
د لیکني مجلې د اداریو ښه والی دا دی چي د خپلي ژبي اصل ټکي په کي کارول سوي دي او د پردیو ژبو د ټکو فیصدي یې ډېره لږ ده، غیر ضروري بحث او مباحثې او د جملو په بیا بیا تکرار څخه هم ډډه سوې ده.

د لیکني مجلې اداریې ډېر ساده،عام فهمه او روان نثر لري چي لوستونکي یې یو وار لوستل پیل کړي نو تر آخیره یې د لوستو بغیره نه سي پاته کېدی د لیکني مجلې په لومړۍ اداریه کي چي د لیکني مجلې د پیل په اړه د پښتنون اولس د پام راړولو د پاره د الفاظو او جملو کوم بهترین ترتیب استعمال سوی دی هغه د پښتو نثر یو ښه نمونه ده د دغه اداریې د یو پېرګراف نمونه په دا ډول ده.

"دا دئ په ډېر لوی زړه او خوشحالۍ سره پر تاسو باندي دا زېری کوو چي د پښتو اکېډېمۍ له خوا څخه په باقاعده ډول د درې میاشتنۍ رسالې اجرا د "لیکني" په نامه باندي وشوه."(۳)

د ادارېې په دې پیرګراف کي که د لیکني مجلې د اشاعت ږغ سوی دی خو د نثر طرز او انداز یې هم د کتو دی نثر یې رواني او خوږوالی لري د لیک انداز یې د لوړې پایې د معیار سره سره د الفاظو د کړیو یو داسي ځنځیر جوړه وي چي د الفاظو په بدلولو سره یې د نثر ټول ترتیب،خوند او رواني له منځه ځي.

د لیکني مجلې د اداریو یوازي نثري طرز او انداز ښه نه دی بلکې د بېلا بېلو طرزونو د تحریر په وجه هم د لیکني مجلې ادارېې ځانګړی حیثیت لري لکه په دغه لاندي اداریه کي چي د خطیبانه یا تقریر غوندي تحریر څخه کار اخستل سوی دی لکه.

"درنو لوستونکو: د لوی خدای شکر ادا کوو چي د پښتو اکېډېمۍ د خوا څه د لیکني مجلې دویمه ګڼه په خپل ځانګړي رنګ،معیار او نووو لیکنو سره تاسو ته وړاندي کوو. دا ګڼه څنګه ده د موادو په اړه څه ډول بدلون په کي په کار دی؟ کومي نیمګړتیاوي پکښې دي؟ او د یویشتمي پېړۍ د تقاضو مطابق موږ د دغي ګڼي د معیار اوچتولو د پاره نور څه کولی شو؟ ."(۴)

د دې ادارېې په لوستولو سره لوستونکي دا اثر اخلي چي لیکوال ده ته براه راست لار ښوونه کوي او دی یې په غور سره اوري په داسي انداز کي د لیکلو څخه لوستونکي د تقریر خوند اخلي او داسي تحریریونه پښتو ادب ته د نثر په میدان کي د جدید نثر ور ورخلاسوي.

د لیکني مجلې په اداریو کي ادبي رنګ زیات ښکاري که چیري هم د سیاسي رنګ څرک ښکاري خو هغه په ادبي پوښ کي په داسي ډول پوښل سوی وي چي لوستونکي یې په مطلب او مدعا هم پوه سي او په مزاج یې بوج هم نه سي لکه د مثال په توګه دغه لیکنه.

"د دې هیواد هر باشعوره سړی په دې پوهیږي چي له موږ سره چي هر څه شوي دي یا کیږي دغه ګرده پړه باید چي موږ پر بل چا وا نه چوو ځکه په دې کښې بالواسطه یا بلا واسطه زموږ لاسونه هم شتون لري، خو دا بله خبره ده چي په یوه یا بله بهانه موږ و خپل ځان ته د دې متل په مصداق ګوته نه نیسو، که څلور ګوتي و بل ته غزوې نو یوه و ځان ته هم وغزوه."(۵)

د لیکني مجلې په یوه بله اداریه کي د پاکستان د سیاسي ډلو د کار او هلو ځلو په تناظر کي قام ته مشوره ورکوي چي د سیاسي اداکادارنو په اداکاري دهوکه نه

سي بلکې د هغو سره د تېر وخت په هکله کلک او روڼ احتساب وکړي په اداريه کي کاږي چي.

" په ټول وطن کښي سياسي هلي ځلي شروع شوي دي د انتخاباتو راتګ دی،سياسي ګوندونه،خپل د رښتيا او دروغو عمل و خپل اولس ته وړاندي کوي. د الزام تراشۍ او دوشنام ترازۍ، د کاڼو باران په زوره زوره اووري. چا له چي موقع په لاس ورغلې وه،هغه صفائي وړاندي کوي څوک چي له سره نوې برخه غواړي،هغه خپل مړي له ګوره راکاږي چي دا يې کړي دي او دغه د امن لاره يې راته جوړه کړې ده خو په دې کښي د مزې خبره دا ده، چي د تېروتنو د احتساب خبره هيڅ څوک نه کوي ښه به دا وي چي د تېروتنو په رڼا کښي د مثبت سوچ او فکر، يوه داسي زاويه منځ ته راغلې وای چي هغه د سبا د پاره د نوي منزل د تعين سبب وای."(۶)

د ليکني مجلې په اداريو کي د ادب د بېلابېلو اصنافو،نظرياتو، ميلاناتو او رحجاناتو په هکله په ګڼ شمېر ليکني،توضيحات،تنقيدي و تحقيقي اداريې ليکل سوي دي چي ټولي د عصري ژوند د تقاضو سره سمون خوري او د ادب د پرمختګ او د معيار د لوړولو د پاره ارزښت هم لري. په يوه اداريه کي د شاعر او ليکوال ملي فريضه داسي په ګوته سوې ده لکه

"زموږ د شاعرانو او ليکوالانو دا ملي فريضه جوړېږي چي هغه د خپل قلم په اساس د امن رږغ اوچت کړي او د دې د پاره د قام او وطن و هر خواخوږي،کوچني او لوی ته د ادب په خوندوره جامع کښي دغه رږغ ورسوي چي د يزيديت په ضد په شعوري ډول پاڅېدل د خلګو د زړونو داسي خوږ آواز وګرځي چي د هر چا په ښونډانو باندي د امن او ميني نغمې په نڅا شي، هم دغه زموږ اخلاقي او انساني فريضه ده، همدغه د ادب هغه لوړ او ارفع مقام دی چي د نړۍ په هر کونج کښي يې د ميني او ښائست يو خوندور دوږ دی."(۷)

د ليکني مجلې په اداريو کي د طنز و مزاح ليکني په نظر نه راځي، طنز و مزاح په جديد دور کي د ادب يو په زړه پوري صنف دی د نوموړي مجلې د مدير پام د طنز و مزاح په لوري راواړول سي نو دا به د ليکني مجلې او د مجلې د اداريې د پاره د پر مختګ سبب وګرځي.

د ليکني مجلې په اداريو کي په بېلابېلو موضوعاتو باندي ښه په زړه پوري بحث سوی دی د پښتون قام و هري مسئلې ته نه صرف په ژور نظر کتل سوي دي بلکې د هري ستونځي حل يې هم قام ته په ګوته کړی دی. که د ليکني مجلې د اداريو يوه تنقيدي څېړنه وړاندي کړل سي نو دا به د لمر په څېر

 څرګنده شي چي د ليکني مجلې په اداريو کي د نثر د معيار د ساتلو د پاره د ډېر احتياط څخه کار اخستل سوی دی او د اداريو د نثر که هر څو انداز عالمانه دی خو په داسي انداز کي بيان سوی دی چي عام اولس هم ګټه ځيني پورته کولی سي.

**(2)ليکني او تحقيقي موضوعات**:

تحقيق د ليکني مجلې د ادبي خدماتو يو مهم او ارزښت ناک عنوان دی، د تحقيقي مقالاتو د شمېر او معيار په رڼا کي موږ دا ويلای سو چي ليکني مجله په بنيادي توګه د تحقيقي مزاج مجله ده. د ليکني مجلې ټولي مقالې که د تحقيق د لوړ معيار بېلګه نه دي خو په زياتره مقالو کي د تحقيق د شرائطو خيال په لاژمه توګه ساتل سوی دی. په ليکني مجله کي چي د"تحقيق" او څېړنه تر عنواناتو لاندي کومي تحقيقي مقالې چاپ سوي دي هغه موږ په دغه لاندي سرخطونو کي وېشلای سو لکه

١. د ادب او اديبانو په اړه مقالې

٢. د قلمي نسخو او مخطوطاتو په اړه مقالې

٣. متفرق(د بېلا بېلو موضوعاتو په اړه) مقالې

د پښتو ادب او ادبي اصنافو په اړه د مجلې په هره ګڼه کي ډېر تحقيقي مواد چاپ سوی دی چي يوه بېلګه يې د ثبوت په توګه په دا ډول ده.

"موږ چي کله د قرآن عظيم الشان او حديث نبوي مطالعه د شعر په باب کښي وکړه نو زموږ و مخ ته دوه ډوله شعرونه راځي چي يو ممدوح او بل مذموم".(٨)

د اديبانو په هکله درې مياشتنۍ ليکني مجلې ډېري تحقيقي مقالې په خپلو پاڼو کي چاپ کړي دي چي هره يوه يې پر خپل ځای د ليکوال د علمي او تحقيقي زيار ګواهي ورکوي. په خصوص سره د ډاکټر عبدالرؤف رفيقي صاحب مقالې چي د پښتو ژبي د اديباتو او ليکوالاتو د تحلصونو په تناظر کي ليکل سوي دي، د زيات ارزښت وړ دي. د رفيقي صاحب د يوې ليکني بېلګه په دا ډول ده. هغه وائي چي:

> "درويش دراني عبيد اللهزوکړه مئي 1953م، د احمد شاه زوی، ګلستان پښين، په ختېه پوپلزی دراني، 1965م، د شاعرۍ پيل،تعليم ايم اې انګرېزي،د انګرېزي پروفيسر ريټائرډ".(٩)

د قلمي نسخو او مخطوطاتو په اړه "د کسې د لمني لرغوني آثار او قيمتي جواهر" او "په داتا ګنج بخش کتابتون کښي د پښتوقلمي نسخې" هغه اوږدې تحقيقي مقالې چي په قسط واره توګه په ليکني مجله کي چاپ سوي دي. دلته يې يوه بېلګه د ثبوت په توګه وړاندي کوم لاژمي ګڼم، ښاغلی ليکوال د داتا ګنج بخش د کتابتون د يوه کيټلاګ په اړه وائي چي.

> "په دې کښي د پښتو د قلمي نسخو شمېر درې سوه لس(310) راغلی دی.د عربي او پښتو ګډې نسخې پنځه ځلويښت(45) دي. د عربي،فارسي او پښتو ګډې نسخې درويشت(23) دي، د فارسي او پښتو اوه اويا (77) نسخې دي، د پښتو او اردو دوې(2)

نسخې دي، د فارسي او افغاني يوه(1) نسخه ده، د پښتو او پنجابي هم يوه نسخه ده.
دا رنګه څلور سوه يو کم شپېته(459) نسخې جوړېږي".(۱۰)

په درې مياشتنۍ ليکني مجله کې چې د تصوف، کلتور، مذهب او تاريخ په اړه کومې تحقيقي مقالې چاپ سوي دي هغه ته مورږ متفرق موضوعاتي مقالې ويلای سو، چې بيلګه وړاندې کول يې د موضوع د اوږوالي سوب ګرځي نو ځکه مورږ د ليکني مجلې د تحقيقي خدماتو په اړه د مجلې د مطالعې پس دا ويلای سو چې د مجلې د تحقيقي آثارو اصل هدف او مرام/خالص ادبي تحقيق دی چې د هيڅ يوې ډلې او مخصوص فکري ټولني د پاره نه بلکې د پښتو ادب د ودې او پر مختګ د پاره يو مهم ګام دی.

(3) **ليکني او کره کتنه (نقد و نظر)**:

د درې مياشتنۍ ليکني مجلې د ادبي خدماتو يوه لويه برخه پر تنقيدي ادب مشتمله ده په مجله کې د نثر او نظم په اړه تنقيدي مقالې دا څرګنده وي چې په مجله کې د ادب دواړه اړخونه د کره کتنې په چوکاټ کې يو شی مقام او حيثيت لري.

د ادبي کره کتنې په وده او پر مختګ کې ليکني مجله يو ځانګړی شناخت لري، د مجلې د تنقيدي ادب د معيار، طرز، علميت، ترتيب او طريقه کار اندازه د دغه بېلګو څخه په ښه شان کېدای سي.

"ما دې ليکنه کښې د ليکوال پوره پوره اقتباسات را نقل کړي دي، د دې يوه وجه دا ده چې عين ممکن ده زه هم انسان يم زما رسد ورته پوره پوره نه وي شوی نو که داسي وي نو زما اصلاح به وشي. او بله وجه يې دا ده چې لوستونکي په خپله هم دا اووينې چې د ليکوال د تعين قدر پېمانې او د هغې پکاروني د کومې سطحې دي".(۱۱)

د ښاغلي قيصر آپريدي تنقيدي مقاله د اپريل جون 2018م ميلادي کال په ګڼه کې چاپ سوې ده چې پر تنقيد باندې د جوابي تنقيد ډېره ښه بېلګه ده، يوه نمونه يې په دا ډول ده، چې د شاعرۍ په هکله مواد لري. هغه وائي

"دا د شاعرۍ نېچر دی، دا د شاعرۍ قسمت دی او په خپل دې قسمت او طبيعت کښې شاعري که د چا خوښه وي شاعري ورته هر کلی وائي او که خوښه يې نه وي نو د افلاطون غوندې ورته مردوديت نسبت کولو کښې آزاد دی. شاعري د چا د دې خواهشاتو ډېره پرواه داره هم نه ده ځکه چې شاعري د خپل نېچر دائره دغسې نه شي ماتولی څنګه چې انسان د خپل وجود له دائرې نه وتی شي او نه خدای او فرښته جوړېدی شي."(۱۲)

"د پښتو سندره" د غازي سيال تنقيدي ليکنه ده، ښاغلي سيال صاحب په دغه ليکنه کې دنن د سندرې او موسيقۍ تنقيدي جاج په دغه ټکو کې وړاندې کړی دی هغه وائي.

"د زړو سندرو د طرز په مقابله کښې د نن سندري هیڅ نه دي. نوی تخلیق نشته، د زړې سندري طرزمات رامات کړي او خپله اوستازي اوښائي، سندر غاړي ستوډیو ته ولاړ شي طرز زده کړي لفظونه یاد کړي، ریکارډنګ وشي، خو د سندر غاړي په زړهٔ کښې هغه بې د سندري وئیلو تشنګي پاتي وي، د نن موسیقاران د خپلي موسیقۍ نه نۀ دي خبر، د زړو، پخوانو موسیقارانو په طرزونو شخوندوهي".(۱۳)

د لیکني مجلې د ادبي کره کتني ذخیرې د بشپړه مطالعې پس موږ د لیکني مجلې د تنقیدي ادب په اړه د خدماتو مختصره جائزه په دغه ټکو کي وړاندي کولی سو.

۱. د لیکني مجلې تنقیدي مقالې د کره کتني د شرائطو په رڼا کي لیکل سوي دي.

۲. د مجلې پر تنقیدي ادب د عصریزو ادبي تحریکونه اثر په لویه کچه نه لیدل کیږي خو په تنقیدي لیکنو کي یې ځای پر ځای بیلګي په نظر راځي.

۳. د مجلې د تنقیدي ادب ذخیره د علمي او ادبي تنقیدي ښې بیلګي او نمونې لري.

۴. د مجلې د تنقیدي ادب ذخیره د ادب د لوستونکو د پوهي او تربیت د پاره د قدر وړ مواد لري.

**(4) لیکني او پښتو افسانه**:

افسانه د جدید نثري ادب یو مشهور صنف دی چي په مجلا تي ادب کي هم ځان له خپل ځانګړی مقام لري. افسانه یا لنډه کیسه هغه فرضي نکل یا کیسې ته وئیل کیږي چي تعلق یې د ژوند یا د کوم قام یا اولس د کلتور، ژواک او دود او دستور سره وي. خو د خوند پیدا کولو د پاره و واقعاتو ته یې د کیسې رنګ ورکول سوی وي.

پښتو ادب ته افسانه د اردو ژبې څخه د ژباړي په برکت راغلې ده. د پښتو لومړۍ افسانه په 1917م میلادي کال کي راحت زاخیلي لیکلې ده چي نوم یې"کونډه جینۍ" ؤ. دغه افسانه د کلیوال ژوند عکاسي کوي او د افسانې د کورنۍ وېش له رویه دغه افسانه اصلاحي افسانه ده.

درې میاشتنۍ لیکني مجله د مجلې د پیل څخه د "افسانې" تر سر خط لاندي ځانګړې سلسله لري چي په هغه کي د بېلا بېلو لیکوالانو ۵۸ افسانې تر اوسه چاپ سوي دي."لیونۍ ونه"، "پردیسه ونه"او "دایه درې" د ښاغلي فاروق سرور صاحب، ډاکټر نصیب الله سیماب صاحب او مینه بوریواله هغه افسانې دي چي د لیکني مجلې په لومړۍ ګڼه کي چاپ سوي دي.

د لیکني مجلې په لومړۍ پنځه کلنه دوه کي د ښاغلي فاروق سرور لس(۱۰) افسانې چاپ سوي دي. چي لویه برخه یې د علامتي افسانو ده، خو اصلاحي او تمثیلي افسانې هم لري. د فاروق سرور صاحب افسانې دا خاصیت لري چي د لیک ژبه یې د ماحول سره سمه ده، کردارونه یې د پښتني کلتور او دودونو د استازیتوب په جامه کي د مکالمې سره وړه په وړه پر مختګ کوي.

مغروره انجلۍ، زنځیرونه، دسمال، ځال، ژړه غوا، تاترین، مجرم، کوکو جادوګره، آسمان به نن خړیږي د فاروق سرور په مجله کي چاپ سوي هغه نمائنده افسانې دي چي د ټولني د بدنما او ناوړه

رواجونو او خويونو يې په داسي انداز کي تذکره کړې ده چي يو خوا د ټولني اصلاح په کيږي او بل طرف ته د لوستونکي د جمالياتي حس تسکين هم کوي.

د الحاج در محمد کاسي صاحب څلور(۴) افسانې د ليکني مجلې په بېلا بېلو ګڼو کي چاپ سوي دي. د کاسي صاحب افسانې په بشپړه توګه د پښتون ټولني عکاسي کوي. د کاسي صاحب د افسانو د ليک ژبه ساده، عام فهمه او رواني لري چي دغه بېلګه يې د مثال په توګه د خپلي دعوې په حق کي وړاندي کوم.

> "وهاب خان په غور يو وار شين خالۍ او بيا په تبخي باندي پخيدونکي ماليدې ته وګوري او سړه ساه واخلي، اې شين خالۍ! ته څه خبره يې چي مشرتوب څومره لوی بار دی د دې ټولو وګړو او څارو غم زما په غاړه دی، وام که دې قبضه ګرو لاړ رانه کړه نو بيا به څه کوم؟".(۱۴)

سليم بنګش صاحب د افسانوي ادب ځلاند نوم دی او د خپل مخصوص انداز له کبله ډېر شهرت لري. د بنګش صاحب څلور(۴)افسانې درې کاڼي، څلورمه دنيا، دوه زړه او اپريشن د ليکني مجلې په بېلا بېلو ګڼو کي چاپ سوي دي.د بنګش صاحب د افسانو موضوع پښتون ټولنه ده.د سليم بنګش افسانې د افسانې په ادبي تول پوره دي نو له دې کبله دغه افسانې د پښتو ادب په ذخيره کي ښه اضافه ده.

د ذهين اپريدي،زړګي عليخيل او بهار ناصر هم څلور، څلور افسانې د ليکني مجلې د پاڼو ښائست او ښکله ګرځېدلې ده چي د پښتو ادب په وده او پر مختګ کي ډېر ارزښت لري.

د درې مياشتنۍ ليکني مجلې د افسانې د سرخط د بشپړه مطالعې پس موږ دا ويلای سو چي ليکني مجلې په خپلو پاڼو کي پښتوافسانې ته خاص مقام ورکړی دی چي له کبله يې پښتو افسانې وده کړې ده.

**(5) ليکني او پښتو تکل**:

تکل هم د نورو جديد ادبي اصنافو په څېر د اردو ژبي څخه پښتو ادب ته د ژباړي په بڼه کي رارسېدلی دی او د شلمي پېړۍ په پيل کي يې د پښتو ژبي ادبي رنګ خپل کړی دی. د نورو جديدو ادبي اصنافو تر څنګ ليکني مجلې په خپلو پاڼو کي تکل ته هم ځای ورکړی دی چي د ليکني مجلې د پښتو ادب په پر مختګ کي د کردار ادا کولو ښکاره بېلګه ده.

د درې مياشتنۍ ليکني مجلې په لومړۍ پنځه کلنه دوره کي ټول نهه(9) تکلونه چاپ سوي دي چي تفصيل يې په دا ډول دی.

| نمبر | د تکل عنوان | د ليکوال نوم |
|---|---|---|
| 1 | تکل | مقدس خان معصوم |
| 2 | پوزه | ماښام ختک |

| | | |
|---|---|---|
| 3 | ښکر | ………………… |
| 4 | څه توکل که عطر پوري که وور ولګور | ډاکټر برکت شاه کاکړ |
| 5 | عقل | خلیل باور |
| 6 | زما سفرنامه | ګل محمد بیتاب |
| 7 | د چړچنو توت | ….. |
| 8 | جرګه | سلیم بنګش |
| 9 | نسوار | ………… |

د درې میاشتنۍ لیکني مجلې ټول تکلونه په زړهٔ پوري دي او په بېلا بېلو موضوعاتو باندي لیکل سوي چي له کبله یې د پښتو ژبې نثري ادب پراختیا خپلوي. د مجلې په بېلا بېلو ګڼو کي د ماښام خټک چاپ سوي تکلونه روانه، ساده او په زړهٔ پوري لهجه لري چي لوستونکي یې په لوستلو نه ستړي کیږي. د ماښام خټک صاحب د یو تکل څه برخه د بیلګي په توګه په دا ډول ده. هغه وائي چي.

"پوزه په مور ډېر ګرانه ده په یخني،ګرمي کي دا د یخ او ګرم نه بچ ساتو په ښه بده کي د دې د لوړوالي خیال ساتو، په سرو سپینو زرو یې ښائسته کوو خو چي کله بیا په چا خپله پړه هم منو نو هم دا پوزه وي چي د سر ټیټي نه مخ نه اړوي او په زمکه د کرښي لا ښکلو تر نوبت هم تېره شي."(۱۵)

د ګل محمد بیتاب صاحب تکلونه په زړه پوري دي او د لیک ژبه یې تاثري بڼه لري د یو تکل د تحریر بېلګه یې په دا ډول ده هغه لیکي.

"د یوه خبره هم عام طور سره مشهوره ده چي د بادشاه جان اکثرو عقیدتمندو لوی لوی مقامات تر لاسه کړي دي او د دوی د خدماتو په اعتراف کښي ورته د ملک لوی ایوارډونه ورکړي شوي دي لکه امیر حمزه خان شینواری چي د پښتو غزل بابا منلی شوی دی. رفیق شینواری یو بې بدله موسیقار ؤ، ګلنار بېګم چي د پښتو د ټولو نه مشهوره سندرغاړې وه.دغه شان خیال محمد او هدایت الله د پښتو موسیقۍ ډېر لوی نومونه دي او دې ټولو صدارتي ایوارډونه تر لاسه کړي دي."(۱۶)

سلیم بنګش صاحب د تکل له لاري و پښتو ادب ته د قدر وړ خدمات کړي دي. تکلونه یې ډېر معیاري او ښکلې لهجه و بڼه لري چي یوه بېلګه یې په دا ډول ده.

"زه منم چي جرګه د پښتنو د کلچر حصه ده او د پښتنو ښائست دی خو داسي خو هم نه وي چي سړی ښې توخي نه اوباسي.په دې لړ وخت کښي مي ډېري جرګې وکړې.فیصلې یې هم وشوې، تاوانونه مي هم وکړو خو ځان مي جرګونه خلاس کړو خو داسي جرګه لکه چي زه یې دا ځل کوم داسي جرګه ما نه ده لیدلې، ما خو اول دې سړي سره د جرګې کول

نه غوښتو خو د مشرانو په خولې چې بیا سړی ملامت شي ما جرګې ته غاړه ایښې وه.
میاشت وشوه چې خبري نه کیږې جرګه ماران نه کښېني چې خبره خلاسه شي".(۱۷)

د ډاکټر برکت شاه کاکړ صاحب تکل د معیاري تکل ښکلله ده چې د یو معیاري تکل د پرتلیز جاج اخستلو د پاره د چوکاټ او ماډل حیثیت لري. د ډاکټر صاحب د تکل د لیک لهجه په زړۀ پوري روانه، ساده او خوږه ده او په لوستلو کي د لوستونکي د جمالیاتي حص د کتهارسس کولو صلاحیت هم لري. د ډاکټر صاحب د تکل لیکني د لیک یوه بېلګه په دا ډول ده.

"اصل زه هم دلته سب انجنئیر یم، وختي استهنټ وم جګ جوړ،روغ رمټ وم، کله چي مي ترقي وشوه او دلته حکیم صاحب سره یوه دفتر ته راغلم، ټولي ناروغیاني لکه په یوه صلاح راته پېښي شوي، ساه لنډي، د سترګو کمزوري، د هډو دردونه او اوس خو راته ښکاري چي په غوږو هم درونډ شوی یم".(۱۸)

د درې میاشتنۍ لیکني مجلې په پاڼو کي د پروفیسر خلیل باور صاحب تکل د"عقل" تر عنوان لاندي چاپ سوی دی چي د لیکوال پر تکل لیکنه باندي د دسترس او پوهي ګواهي ورکوي. د باور صاحب د تکل د تحریر یوه نمونه په دا ډول ده هغه لیکي.

"دانایان وائي عقل سړی منزل ته نژدې کولای شي خو منزل ته یې له جذبې بغیر رسولای نه شي کله چي نمرود ابراهیم(ع) اوور ته واچاوه نو د عقل ملائیکي ورته راغلې، او دۀ ته یې وویل اې د خدای نازولې پېغمبره ! که ته غواړې نو موږ به باران وورو او د نمرود اوور به په لمحو کښي نیست و نابود کړو خو ابراهیم علیه السلام پوهه وو هغه وویل زه د عقل پر لارو منزل ته نه شم رسېدلی ما به صحیح منزل ته د عشق لاره رسوي لکه شاعر چي وائي." بے خطر کود پڑا آتش نمرود میں عشق"(۱۹)

د "تکل" د دغه بحث او څېړني څخه دا خبره ښکاره کیږي چي درې میاشتنۍ لیکني مجلې د پښتو ادب د نثر د برخي په هر صنف کي په خصوصیت سره بیا د "تکل" په صنف کي ښه په زړۀ پوري خدمت کړی دی او د خدمت دغه لړۍ بې لا په باقاعدګي سره دوام لري.

**(6) لیکني او پښتو ناول**:

ناول د نثري ادب یو بل صنف دی چي دجدید ادبیاتو د بهرنۍ نړۍ څخه د اردو ژبي په واسطه پښتو ادب خپل کړی دی. ناول د داستان او لنډي کیسي څخه بیل شکل او حدود لري خو په ترکیبي اجزا کي د لنډي کیسي سره خاص توپیر نه لري.

د درې میاشتنۍ لیکني مجلې په لومړۍ پنځه کلنه دوره کي د مجلې په پاڼو کي هیڅ یو ناول هم نه دی چاپ سوی خو د ناول په هکله د رشید احمد صاحب دوې ډېري ګټوري او په زړۀ پوري لیکني چاپ سوي دي چي د ناول د لیکولو، ډولونو او د ناول، داستان او افسانې د توپیر په هکله خورا ګټور مواد لري.

"د پښتو ناول" په عنوان لیکنه کي ښاغلي لیکوال د ناول د پېژندګلوي په هکله داسي لیکي.

> "ناول د انګرېزي ټکی دی چي ماخذ یې د فرانسوي او لاطیني ژبو ټکي"نوویلا ""Novella"دی او د دې مطلب دی نوی څیز،ناول یورپي ادیبانو د جدید داستاني صنف د پاره غوره کړی وو چي د پر مختګ سره په وجود کښي راغلو".(۲۰)

"د وزیر لور" د رشید احمد صاحب د ناول په اره د دویمي لیکني عنوان دی چي د ډاکټر للیاس هیملتین د ناول په اړه د ډاکټر عظمت هما د لیکني تنقیدي او تجزیاتي بڼه لري.

د ناول د سرلیک د څېړني او مطالعې څخه دا په ډاګه کېږي چي د لیکني مجلې د ناول په چوکاټ کي خدمات د پښتو ادب د نورو اصنافو په پرتله ډېر شانداره نه دي چي یوه وجه یې دا کېدی سي چي په تېر وخت کي په پښتو ادب کي د ناول لیکني رحجان ډېر کم ؤ خو نن صبا دغه رحجان زیات سوی دی او په کار ده چي د دغه رحجان حوصله افزائي وسي چي له کبله یې په راروان وخت کي ښه شاهکار ناولونه ولیکل سي او په لیکني مجله کي هم چاپ سي او د پښتو ادب نور هم په پیاوړی سي.

**(7) لیکني او پښتو ډرامه**:

ډرامې په ۱۹۲۸م میلادي کال کي پښتني رنګ خپل کړی دی دلومړي ډرامې خالق عبدالأکبر خان اکبر او د ډرامې نوم"درې یتیمان"دی.

پښتو ډرامې تقریباً په خپله سل کلنه دوره کي ډېر پر مختګ کړی دی او پښتو ادب ته پښتنو لیکوالانو داسي وتلي او شاهکاره ډرامې وربخښلي دي چي یو خو د پښتو ادب د نثر برخه په پیاوړې سوې ده او بل یې د نړۍ والي ډرامې سره د سیالۍ د پاره ښه ضمیمه برابره کړې ده.

ډرامه نن صبا د ټي وي او موبائل پر سکرین باندي په ژوندۍ بڼه کتل کېږي د لوستولو رحجان یې بېخي ډېر کم سوی دی نو دا وجه ده چي په مجلاتي ادب کي د مجلې پر پاڼو ډرامه په تحریري بڼه کي ډېره کمه لیدل کېږي. خو د ډرامې د فن او جوړښت پرهنر باندي تنقیدي اصلاحي، او تجزیاتي لیکني په دوام داره توګه په مجلو او رسالو کي چاپېږي.د دغه لړۍ لیکني په درې میاشتنۍ لیکني مجله کي هم چاپ سوي دي چي د ډرامې د فن په هکله ګټور او علمي مواد لري د بېلګي په توګه د ډاکټر زبیر حسرت صاحب دغه ژباړل سوې لیکنه د نمونې په توګه وړاندي کېدی سي.

> "د تاثر له اعتباره د ډرامې دوه لوی قسمونه دي یوه المیه او دویمه طربیه. باقي ټولو قسمونو کښي غم او ښادۍ د کمی بیشی نه واقع کېږي.المیه ډرامې د ډرامې اعلیٰ ترین قسم ګڼلای شي ځکه چي دا هم تصویر کېږي چي په المیه کښي د اعلیٰ درجې سنجیده فکرو ته ځای مومي".(۲۱)

پښتو ډرامه ورځ تر بله مخ د ترقۍ پر خوا روانه ده او پر مختګ کوي په دې کي د مجلاتي ادب او درې میاشتنۍ لیکني مجلې کردار نه یادول د حقیقت څخه سرغړونه کول دي ولې چي د لیکني

مجلې د اجرا مقصد د پښتو ادب د ودې او پر مختګ له لارې د پښتون قام د خپلې ژبې او ادب سره مينه پيدا کول دي او ليکني مجله په خپل دغه مقصد کې تر يو حده پورې بريالۍ ښکاري.

**(8) ليکني او پښتو طنز و مزاح**:

د درې مياشتنۍ ليکني مجلې د طنز و مزاح سر ليک د موادو له پلوه ډېر غني دي او په بېلا بېلو موضوعاتو باندې يې د نثر او نظم په دواړو صورتونو کې ليکني په خپلو پاڼو کې چاپ سوي دي. چې د پروفيسر خليل باور د ليکني"ژبه" يوه بېلګه يې په دا ډول ده.

"محروم خو محروم وي هغه که له مورنۍ ژبې وي که له پلارنۍ. د خپلې ژبې د پاره اواز نه شي پورته کولای ولې چې په داسې ټولنه کښې چيرې چې نه ده جمهوريت خدوخال ښکاره وي او نه د مذهب خدوخال نو هلته خو د ژبې د پاره اواز پورته کول د غدارۍ تمغه حاصلول دی ځکه نو هغه ځوک ډېر په آمان دي چې له سره د سماعت،بصآرت او قرآت له نعمته محرومه دي. ځېنې امن دوسته خلګ خو د درې واړه نعمتونو له لرلو باوجود له پاليسۍ ځخه کار اخلي."(۲۲)

د درې مياشتنۍ ليکني مجلو په ګڼو او پاڼو کې تر ټولو زياتې طنزيه او مزاحيه ليکني د ډاکټر برکت شاه کاکړ صاحب چاپ سوي دي. ډاکټر صاحب په خپلو ليکنو کې د مزاح له لارې ډېر سخت طنزونه کړي دي خو د ليک ژبه يې دومره ساده، روانه او عام فهمه استعمال کړې ده چې لوستونکي يې ډېر په آساني سره په مدعا پوهېدی سي. د ډاکټر صاحب د طنز و مزاح د ليک بېلګه په دا ډول ده.

"زما کنفيوژن چې يې وليد نو مشر خياط راولاړ سو، په ډېر راز دارانه انداز يې په نرمۍ راته وويل! ستا خواشيني بې ځايه ده. ولې چې ګلبدين کټ هم دغه وي...په تاسي پسې هلک آخري ځل نعره کړې وه چې ډاکټر نجيب که ګلبدين؟؟ تا د ګلبدين نوم بللی ؤ. د ګلبدين کټ ځکه ورته وائي چې که دی په دې لنډه خوا کښې مرمۍ،د راکټ توغندی،ټانګ بېرمنګ، د مټر سائيکل شلېدلی زنځير يا بل جنګي اوزار اچوې نو هغه بله خوا به پسې راپورته کيږي".(۲۳)

د درې مياشتنۍ ليکني مجلې د"طنز و مزاح" په سلسله کې د ډاکټر برکت شاه کاکړ صاحب، "قصه د پښتو ادبياتو د امتحان"،"د شاعر اصلاح"،"سوچه پښتو"،"مومن خان سور ښامار او د سرمايې د باچا لور" او پروفيشنل جليسي د طنز و مزاح په پسول درانه مضامين دي چې په خپله لمن کې د ټولنې د اصلاح تر څنګ د لوستونکو د ساعت تيرې باعث هم ګرځي.

د ليکني مجلې د "طنز و مزاح" په سرخط کې د نورو ليکوالانو ليکني هم چاپ سوي دي چې د خپل ليکوال د ليک د انداز او سوچ نمائندګي کوي لکه د خليل الله تصميم"انسان او موږک" او د ممتاز علي خان خټک "کتاب دومره بې قدره ولې شو".د درې مياشتنۍ ليکني مجلې د طنز و مزاح د دغه

جائزې څخه دا څرګندیږي چي لیکني مجلې د ادب په دغه صنف کي د پښتو ادب د پر مختګ د پاره ښه کافي خدمت کړی دی او د خدمتونو دغه لړۍ یې لادوام لري.

**(9) لیکني او په کتابونو تبصرې**:

په کتابونو تبصرې د ډېر پخوا څخه د ادبي مجلو مشهور سر خط دی. مصنفین خیل تخلیق سوي آثار و مجلې ته د تبصرې د پاره په دې وجه وړاندي کوي چي هره مجله د ادب په چاپېریال کي خپل ګڼ شمېر لوستونکي او ځانګړې ادبي حلقه لري چي د یو کتاب د تشهیر او پیژندګلوي د پاره ښه ذریعه ده.

درې میاشتنۍ لیکني مجله د تبصره نګارۍ و صنف ته دوام او وده ورکولو په میدان کښې ډېر ښه کردار ادا کوي چي دغه لاندي فهرست یې د ثبوت په توګه وړاندي کېدای سي.

۱. د غاړو ادبي څېړنه د اروابښاد سعید ګوهر تبصره

۲. د بابو جان مجموعه د احسان بېتني تبصره

۳. د ملاکنډ دوه ستوري د رشید احمد تبصره

۴. د مولانا روم مثنوي د سمیع الدین ارمان داؤدزي تبصره

۵. "ځلنده ارمانونه" ته یوه کتنه د اسیر منګل تبصره

۶. د اختر زمان خټک "ستړي دلیلونه" د حنیف خلیل تبصره

۷. منهاج العابدین یوه لویه خزانه د خلیل الله تصمیم تبصره

۸. هنګامې په خاموشۍ کښي د محبوب ګل یاسر تبصره

۹. ځوربېدلي احساسات او د امن تصور د اقبال شاکر تبصره

۱۰. د قیوم مروت "نهم لیونی" د نادر خان علیل تبصره

په درې میاشتنۍ لیکني مجله کي چاپ سوي تبصرې روایتي یاسر سري نه دي بلکې په هره تبصره کي یې په ډېر اختصار سره د کتاب ټول اړخونه څېړل سوي دي. د دې علاوه د لیکني مجلې تبصرې ډېر خصوصیات لري چي د یو څو یادونه یې په دغه سرلیکونو کي کېدای سي لکه

1. **تفصیلي تبصرې**:

د درې میاشنۍ لیکني مجلې زیاتره تبصرې تفصیلي دي او د کتاب د مکمل مطالعې وروسته لیکل سوي دي. د سید خیر محمد عارف پر کتاب "د غاړو ادبي څېړنه" باندي تبصره د لیکني مجلې د جولائي-ستمبر

۲۰۱۴م میلادي کال په ګڼه کي شائع سوې ده په هغه کي تبصره کوونکي د یاد کتاب جامع تعارف کړی دی او د ځو خامیانو یې هم یادونه کړې ده او په آخر کي یې خپل نظر وړاندي کړی دی هغه وائي.

"د پورته ذکر شوو نیمګړتیاوو او نیوکو باوجود د سید خیر محمد عارف دا تحقیقي،تنقیدي او ادبي تالیف"د غاړو ادبي څېړنه" د ښېخي ډېري ستائیني وړ کتاب دی. یقیناً چي دې اشاعت د فولکلورستهانو،ژبپوهانو،لغت نویسانو، محققینو او ناقدینو د پاره د شفاهي ادبیاتو په لړ کي د زیار په هکله نوي دروازې خلاسي او نوي لاري پرانستلې او هغوئ ته یې د اولسي ژانرو په باب د څېړني او کره کتني لپاره نوی نظر اوباخښه".(۲۴)

2. **معلوماتي تبصرې**:

سمیع الدین ارمان داؤدزي په خپله تبصره"د مولانا روم مثنوي معنوي" کي د مولانا روم د ذات په هکله داسي معلومات وړاندي کوي هغه وائي.

"د مولانا روم خپل نوم محمد ؤ، جلال الدین یې لقب ؤ او مشهور په مولانا روم دی، د ده د پلار او نیکه نوم هم محمد ؤ. د ده شجره نسب د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره ملاویږي. دی د افغانستان په بلخ نومي ښار کښي په کال دولس سوه او اووه(۱۲۰۷) کښي د مشهور عالم او صوفي بهاوالدین کره پیدا شوی ؤ. د ده د مرګ نېټه دولس سوه او درې اویا یم دی".(۲۵)

3. **علمي تبصرې**:

د درې میاشتنۍ لیکني مجلې د اپریل-جون ۲۰۱۸م میلادي کال په ګڼه کي د نادر خان خلیل د قیوم مروت صاحب د ناول"نهم لیونی" په اړه تبصره چاپ سوې ده. چي د هغې څخه دا څرګندیږي چي ښاغلی تبصره کونکی د ناول د فن په هکله ښه علم او معلومات لري او د ناول د جوړښت په ترتیب او ترکیب باندي هم ښه خبر دی هغه لیکي چي.

"د مروت صیب دا"ناول" لکه د ده د نورو قیصو اصلاحي دی د دې قیصې د آغاز او انجام د پاره مناسب ماحول تیار کړی شوی دی په خاصه توګه د "پاګل خانې"منظر کشي او د اولنۍ لیوني نه واخلې تر لسم لیوني پوري رسېدل او د هر لیوني بیل بیل حالات او واقعات ترتیبول او  قاري ته وړاندي کول. په قیصې زموږ د ناول نګار مکمل ګرفت په ګوته کوي ورسره ورسره د پښتون قام جهالت،غربت،توهم پرستي،مخصوص جغرافیائي او سماجي ماحول په نتیجه کښي راولاړ شوي نفسیاتي ستونزي زموږ د هر لیوني په تندي لیکلي ښکاري".(۲۶)

د درې میاشتنۍ لیکني مجلې"په کتابونو تبصرې" په سر خط کي د چاپ سوو تبصرو د تنقیدي جائزې څخه دا څرګندیږي چي د لیکني مجلې په تبصرو کي د غیر ضروري تفصیلاتو پر ځای د

جامعیت څخه کار اخستل سوی دی. د زیاترو تبصرو د لیک ژبه ساده او عام فهمه ده او په تبصرو کي د نظریاتي اختلاف باوجود د غیر جانبدارۍ مظاهر سوې ده.

10. **لیکني او پښتو یون لیک**(**سفرنامه**):

یون لیک د درې میاشنتۍ لیکني مجلې یو مستقل سرخط دی د دغه سر خط لاندي د ډاکټر نصیب الله سیماب ناچاپه اثر"کابل ته مه وایه چي رنګ شي"په قسط واره توګه په پنځه ګنو کي چاپ سوی دی. چي د سیماب صاحب د کوره(پښین-کلي منزکي) څخه د افغانستان تر پلازمیني کابل تر ښاره او په کابل کي د بېلا بېلو کانفرنسو، ناستو،مېلمستاؤ او ملاقاتونو روداد په خپله لمن کي لري یوه بېلګه یې په دا ډول ده.

"یو داسي کس سره مخامخ شوم چي ما په کتابونو کښي لیدلی ؤ خبري مي ورسره کړې وې څومره خوږ چي په کتابو کښي راته ړغېدی تر هغه زیات خوږ مخامخ راته ړغېدی. د ادب په نړۍ کښي داسي خلګ د ګوتو په شمېر وي چي په کتاب او مخامخ یو رنګه ږغیږي. دا ملنګ سړی او د زړونو باچا سندریز سړی پیر محمد کاروان ؤ زړه یې د اوبو په څېر چي په نه څه به لړزاند شو د زړه د اوبه یې د سترګو په ککو کښي له ورایه ښکارېدی لکه خوشبو د هرسړي پر زړۀ یې بې پوښتني باچاهي کوله(۲۷)

"کابل ته مه وایه چي رنګ شي"یون لیک کي د افغانستان د زیاتره او په خصوص سره د هغه ښارونو او منطقو جغرافیائي،تاریخي او د سترګو لیدلی حال وړاندي سوی دی کومي منطقې او ښارونه چي د لیکوال تر سترګو تېر سوي دي د غزني ښار په هکله لیکوال وائي.

"غزني چي د ولایت مرکز هم دی یو مشهور زوړ ښار دی او د کابل په جنوبي خوا کښي یو سل پنځه دیرش(۱۳۵) کلیومیټره لیري پروت دی. دغه ښار پر اوچته غوندۍ باندي جوړ شوی دی او یوه مضبوطه کلا او دیوال ورنه چاپېریال شوی دی. د ښارد شمالي برخي پر لوړه غوندۍ باندي د غزني بالا حصار پروت دی چي یوه پخه او مضبوطه کلا ده د غزني پخوانی ښار درې خوا ته یعني په شمال،غرب او جنوب غربي اړخونو کښي درې دروازې درلودې چي بهلول،بازار او کنک په نومو یادیږي".(۲۸)

"کابل ته مه وایه چي رنګ شي" یو رسمي او روایتي یون لیک نه دی بلکي په عمومي توګه په دغه یون لیک کي ډېر ګټور معلومات او فکر لړوزونکي خیالات او نقاط تر بحث لاندي نیول سوي دي.د تاریخي او جغرافیائي معلومات سره سره د ټولنیز او سیاسي ستونزو په اړه هم ډېر ژور بحثونه سوي دي.په دغه یون لیک یو خوا د قامي بېدارۍ،علمي او ادبي ادارو یادونه او کارونه یاد کړل سوي دي او بل خوا د کانفرنسونو،ناستو او مشاعرو روداد هم قلمبند سوی دی.

په دغه یون لیک کي د پخوانیو مشرانو د مزارونو،ښارونو،کتب خانو د یادوني سره سره د نوؤ جوړي سوي کتب خانو او اشاعتي ادارو په هکله تفصیلي معلومات وړاندي سوي دي.د وتلي لیکوالانو او

مشرانو سره د ملاقاتونو حال احوال هم خوندي سوی دی نو ځکه مونږ دا ویلای سو چي د غه یون لیک د یو عام لوستونکي او یو وتلي څېړونکي د پاره یو شی ګټور معلومات لري.

(11)**لیکني او ژباړه**:

ژباړه یو داسي هنر دی د کوم پر وړو چي نړۍ د اوسنۍ زمانې د ټېکنالوجۍ تر دوره رارسېدلې ده او ده نړۍ هغه قومونو او ملتونو او ژبو ډېر چټکه ترقي کړې ده کوم قامونه چي د ژباړې په ارزښت او اهمیت خبر دي.

په پښتو کي د ژباړي تاریخ یوولس پیړۍ ژوند لري او پښتو ادب ته زیاتره جدید اصناف د ژباړي له لاري راغلي دي.

په درې میاشتنۍ لیکني مجله کي د ژباړي د پاره یو بیل سر خط ټاکل سوی دی چي په هغو کي بېخي ډېر ژباړل سوي مواد چاپ سوي دي چي یو څو بېلګي یې په دا ډول دي.

ذاکر زیارت وال د خلیل جبران د تخلیق ژباړه د "قصه" په عنوان داسي کړې ده.

> "د رود په غاړه د اخروټو او مشکو دونو ترپاڼو لاندي، دغریب بزګر زوی ناست،بهانده اوبو ته ډېر په ځیر سره ګوري، دغه ځوان په کرونده کښي رالوی شوی ؤ چیرته چي هر شي د میني قصه کوله چرته چي شاخونه یو بل ته غاړه غړې ؤ، چیرته چي د نسیم هوا د کلونو سره پټ پټوني کوي چیرته چي مرغۍ د میني راګونه وائي. چیرته چي فطرت د خپلو ټولو نظرونو سره د روحانیت درس ورکوي".(۲۹)

پروفیسر خلیل باور د P.B. Shelley مقاله A Defense of Poetry "د شاعرۍ په حق کښي " په عنوان ژباړلې ده چي یوه بېلګه یې په دا ډول ده.

> "ډرامه د کلام یو داسي قسم دی چي د نورو اصنافو د کلام په پر تله د شعر اسالیب زیات پکښې راغونډېدی شي ځکه د اجتماعي خبر او شاعرۍ تر منځ د اړیکو ښه مشاهده په ډرامه کښي کېدای شي له دې سره د اختلاف هیڅ ګنجائش نشته".(۳۰)

بارکول میاخیل د ډاکټر مبارک علي د بحث یا مقالې په اړه په زړۀ پوري لیکنه په خپل انداز کي ژباړلې ده یوه بېلګه یې چي د بحث د زوال او بربادۍ نقشه وړاندي کوي په دا ډول ده.

> "مونږ د ټیلي ویژنونو په سیاسي بحثونو کښي هم د بحث د زوال نندارہ کولای شو چي ګډون وال پکښې د بحث او مکالمې پر ځای په نورو د خپل نظر د منلو لپاره تر خپل منځ جګړي کوي په دغه بحثونو کښي په اردو ژبه کښي د انګریزي توریو او جملو په کارولو سره د ژبي د تحریف او خرابۍ ننداره کولای شو"(۳۱)

د درې میاشتنۍ لیکني مجلې د ژباړي د سرخط دبشپړه مطالعې پس مونږ دا ویلای سو چي په نوموړې مجله کي په چاپ سوو ژباړه کي د ژبي عام فهمه روانه او ساده لهجه استعمال سوې ده او د مجلې ژباړي د ژباړي د اصولو په رڼا کي ترتیب سوي دي.

**(12)ليکني او شخصيات**:

شخصيات د ليکني مجلې د نورو سرخطونو په څېر يو ډېر مهم سر خط دی چي په خپله لمن کي د ګڼ شمېر نوموړو مشرانو، اديبانو او ليکوالانو د ژوند،فن،خدماتو او علمي،ادبي او تاريخي آثارو په هکله معلوماتي مضامين لري چي د تنقيدي او تحقيقي نقطه نظر له لوري د ډېر ارزښت وړ دي د"شخصيات" په سر خط کي د لنډو او تفصيلي مقالو په کيتېګري کي د ډيرو شخصياتو په هکله تذکيرې چاپ سوي دي. د يو څو علمي او ادبي شخصياتو په هکله يې بېلګي دلته په دې خاطر وړاندي کوم چي د ليکني مجلې د دغه علمي او ادبي ذخيرې اهميت او ارزښت رابرسېره سي.

د اروابناد سعيد ګوهر په هکله د سيد خير محمد عارف صاحب چاپ سوې مقاله د اروابناد د لومړي تلين او د هغه د خدماتو او شخصيت په مکمله توګه احاطه کوي هغه وائي.

> "نن د روزې پرلسمه چي زه دا يو څو کرښي ليکم نو دا د ګوهر مرحوم اوله تلينه ده، زه دا په واز کومي وايم چي د پښتو ادب په تاريخ او شعر او شاعرۍ پرهمه اصنافو باندي د کلاسيکي شاعرۍ په باريکيو باندي خدای بخښلي ګوهر ډېر عبور درلود نن چي هغه له دې جهانه سترګې پټې کړي دي نو يقيناً د پښتو ادب ته زيان رسېدلی دی".(۳۲)

سليم بنګش د اروابناد قيوم مروت د شخصيت په هکله وائي چي

> "قيوم مروت صيب د پښتو ادب هغه روڼ ستوری دی چي يو دورېې رڼا کړې دی مروت صيب په يوه وخت کښې د پښتو او اردو شاعر، افسانه نګار،کالم نګار، مقاله نګار،مترجم، نقاد او محقق ؤ. په ډيرو کتابونو يې سريزې ليکلې دي داسي به کوم يو صنف وي چي مروت صيب په کښې ليک نه وي کړی".(۳۳)

عارف تبسم د سيد خير محمد عارف صاحب شخصيت په ټکو يادوي هغه وائي.

> "دا ښه تخليق کار، محقق،مورخ او نقاد يو ډېر لوی انسان هم دی يو انتهائي مخلص ملګری دی د يو پلار رنګه شفيق استاد دی او يو ذمه واره ايمانداره او فعاله اداره جوړونکی هم دی".(۳۴)

"شخصيات" سر ليک که براه راست د ادب يو مخصوص صنف نه دی خو په خپله لمن کي د ادب د ډيرو اصنافو او متعلقاتو په اړه ژور بحثونه لري د ادبي څېړن کارانو د پاره په کار ده چي د خپلو څېړنو د ګټورو او منطقي پايلو د پاره د علم او معلوماتو دغه ذخيره هم په نظر کي ونيسي.

**(13) ليکني او خطونه**:

"ستاسو خطونه او زموږ جوابونه" د درې مياشتنۍ ليکني مجلې وروستۍ سر ليک دی په دغه سر ليک کي هغه خطونه چي د علم،ادب او مجلې په هکله د مجلې و مدير ته راستول سوي دي په خپل وار په مجله کي چاپ سوي دي د خطونو څخه د ليکوالانو د پوهې او د ليک د انداز او طرز په اړه معلومات ترلاسه کېدی سي.

په درې میاشتنۍ لیکني مجله کي چي د کومو لیکوالانو او ادیبانو خطونه چاپ سوي دي په هغو کي د ډاکټر اسرار،م-ر-شفیق،محبوب ګل یاسر، ډاکټر سید چراغ الدین حسین شاه،اکبر حیات کاکا خیل، محمد اشرف غمګین، اسرارالرحمن اسرار د طورو، سعدالله جان برق،محمد همایون هما، غازي سیال،طاهر بونېری،ممتاز علي خان خټک،عمر دراز او آرزو زیارت واله د یادولو وړ دي.
د خطونو او د هغو د جوابونو څخه د لیکوالانو او د مجلې د مدیر د علمیت،ادب دوستۍ او پراخ نظر و فکر اندازه په ښه توګه کېدای سي.

**لیکني او پښتو منظوم ادب**:

درې میاشتنۍ لیکني مجله د پښتو ژبي و لیکوالانو او ادیباتو ته د نثر تر څنګ د پښتوادب د نظم په برخه کي هم دا موقع ورکوي چي هغه د پښتو ژبي خدمت او د خپل ذوق اظهار د لیکني مجلې په ذریعه و پښتو ادب ته په دغه متعین شکل کي هم ډالۍ کړي. د لیکني مجلې د دغه موقعې څخه د نوي شاعرانو سره سره د پښتو ژبي د ادبي نړۍ د صف اول ډیرو نوموړو شاعرانو هم ګټه اخستې ده او خپل افکار او احساسات یې د تل د پاره د لیکني مجلې په پاڼو کي خوندي کړي دي.
درې میاشتنۍ لیکني مجلې د شاعر شعر په انتخاب کي د وخت غوښتني په نظر کي نیولي دي او د معیاري ادب د اصولو په رڼا کي یې د عصریزو ادبي تحریکونه د ملاتړ پرته د پښتو ادب د پر مختګ ذمه پر غاړه اخستې ده نو دا وجه ده چي د لیکني مجلې منظومه برخه یو خوا د پښتو ژبي او پښتون تاریخ لرغوني روایات په خپله لمن کي لري او بل خوا د پښتون وطن د دودونو او قدرونو ترجماني هم کوي.
د درې میاشتنۍ لیکني مجلې منظومه برخه د"نظم"او"غزل زار"په نامه دوه بېل بېل سرخطونه لري چي په هغو کي د ګڼ شمېر شاعرانو منظونه آثار د غزل،نظم،حمد ،نعت،هائیکو،رباعي او قطعات په نوم چاپ سوي دي.دلته د هغو څخه څو نمونې د بیلګي په توګه وړاندي کوم چي د لیکني مجلې د منطوم ادب په میدان کي نمائندګي په وسي. په دغه سلسله کي د سهیل جعفر د یوې غزلي بیلګه په دا ډول ده.

"دا د خواهش سفر دی، وي به تر عمرونو پوري
تګ په ازغو دی، او مزل دی تر ګلونو پوري
چي هره خوا وي ویني، اوښکي،غریبي،استحصال
زموږ دي مینه شي جانانه!په اورونو پوري
څوک اوښکي،اوښکي په یوه اوښکه، څوک په قتل خاموش
فرق لري دغه احساسات تر زړونو زړونو پوري".(۳۵)

د ليکني مجلې د شعر و شاعرۍ په سلسله کي د ډاکټر باقي دراني ډېر منظوم آثار چاپ سوي دي چي د يوې غزلي بيلګه يې په دا ډول ده هغه وائي چي.

"کله ځان سره ګايېږم، نه پوهېږم
کله پټ پټ ومسېږم، نه پوهېږم
يو اتڼ دى د جنون مسته نغمه ده
پرې تاوېږم، راتاوېږم نه پوهېږم
ستا لهجه تراخه ترز هرو ده پوهېږم
ستا له سرو شونډو ځارېږم نه پوهېږم"(۳۶)

اروابښاد عابد شاه عابد د ليکني مجلې د ايډيټوريل بورډ غړى ؤ منل سوى شاعر او ليکوال ؤ. د اروابښاد شاه صاحب حمد ،نعت او ګڼ شمېر غزلونه د ليکني مجلې په پاڼو کي چاپ سوي دي، يوه بيلګه يې په دا ډول ده.

"کله چي ګلشن لره د نوي ژوند دعا کوي
ياره رنګ و بوى لره د ميني التجاه کوي
راسه په دې لاره ته، سترګي درته سترې شوې
ستا د ديد په طمع کښي، د نوي ژوند بنا کوي".(۳۷)

ډاکټر نصيب الله سيماب صاحب د درې مياشتنۍ ليکني مجلې د کتنپلاوى ممبر دى، د پښتو اکيډيمۍ بلوچستان کوټې د کارنده جرګې غړى او د بلوچستان يونيورسټۍ پښتو څانګي چئيرمين دى، د پښتو ژبي او ادب د پاره يې بې ساري خدمات دي.

د سيماب صاحب ډېر شعري توکي د ليکني مجلې په بېلا بېلو ګڼو کي چاپ سوي دي دلته د سيماب صاحب يوه غزل د ليکني مجلې"دغزل زار" څخه د بيلګې په توګه وړاندي کوم هغه وائي.

"نه سحار کيږي د سپېدو انتظار ځله کوې
خالونه وران شو د خالو انتظار ځله کوې
د عشق جنون دي له کوڅې څه په الزام وايستم

زه لیونی د لیونو انتظار څله کوې".(۳۸)

اسیر منګل د پښتو ژبې منل سوی شاعر دی، شعرونه یې ښه په تول پوره دي په لیکني مجله کي یې ډېر منظوم آثار چاپ سوي دي چي د هغو د ډلي څخه یې یوه بیلګه په دا ډول ده.

"ورځ توره شپه وه او د شپې ښېخي سحر نه ؤ
ما چي د کور ورډبولو زما ورنه ؤ
په خوړ کښې زه پروت وم زړې زړې د ورور دلاسه
لالا مي کړی په بل چا پسي لښکر نه ؤ
ما وې دا کوم یو دی چي زه ورته پټکی وتړم
سړي وو ډېر خو یو سړي پوري هم سر نه ؤ".(۳۹)

پروفیسر خلیل باور د لیکني مجلې اوس مهاله مدیر دی په مجله کي یې د نثري لیکنو تر څنګ شعري مواد هم چاپ سوي دي. د غزل یوه بېلګه یې په دا ډول ده هغه وائي.

"ډیري پوښتني دي چي حل غواړي
ورک مسافر تېر شوی پل غواړي
دغي جذبې ته به کوم نوم ورکړم؟
په هره ساه چي څوک اجل غواړي
په خله کي څومره هم جار جار وائي
باوره: مینه د زړۀ تل غواړي".(۴۰)

سلیم بنګش وائي چي

"زه ارادې د بیابان ګورم
زه په کښې پټ غوندي طوفان ګورم
په غړولو سترګو هیڅ نه وینم
چي سترګي پټي کړم جهان ګورم
هر سړی ناست دی سترګي نه رپوي

هر سړی ځان پوري حيران ګورم".(۴۱)

حيات الله حيات د ماحول منظر کشي په داسي ډول کوي.

"د چا سرونه ، د چا پښې د چا لاسونه پراته
ټکړې ټکړې يې د وجود ټول اندامونه پراته
د هري آه، د هر يو اوف،به درته څه ووايم
د ژوند په هر زخم کښي سل رنګه دردونه پراته
دلته اخلاص او احساس دواړه زخمي شوي وينم
د هر سړي په زړۀ کښي څکه نفرتونه پراتۀ"(۴۲)

عمر دراز مروت د غزل په ژبه داسي نصيحت کوي.

"سپېڅلې مينه او سپېڅلې بندګي پکار ده
د خدای مخلوق سره،د زړۀ سره، ياري په کارده
داسي له هر سړې د زړۀ ماتول نه دي پکار
ګيله پکار ده خامخا خو، له سړې پکارده
ډېرو توبونه څه فائده عمر دراز مروته:
توبه پکار ده يکي يوه مګر صحي پکار ده"(۴۳)

د درې مياشتنۍ ليکني مجلې په "غزل زار" کي د ياد سوو شاعرانو علاوه د عارف تبسم،جمال الدين مسافر، آزاد خان ازاد ، حيب س، محمود اياز، محمد همايون، عطا محمد ناقرار،صوبا خان غريب يار،رازق فهيم،سلطان زخپيل،رحمت زلمی،خليل الله تصميم،داؤد بخت مندوخيل،انور حسين مسافر،عبدالحق ودان، محمد عارف اتمانخيل،فضل الرحمان مهجور، سرمر خاکسار، عابد زيار مل،طاهر آفريدی،شفا کاکړه،آرزو زيارتواله،خمار بوريواله، زينب صحرا بي بي،مينه پري وش، سيده حسينه ګل او نازيه درانۍ غزلونه چاپ سوي دي. چي د ليکني مجلې د بنائست او د پښتو ادب د پر مختګ د پاره د سنګ ميل حيثيت لري.د درې مياشتنۍ ليکني مجلې د نظم په برخه کي هم د ډيرو نوموړو او وتلي شاعرانو د هر قسم نظمونه چاپ سوي دي چي د ټولو وړاندي کول يې د مقالې د اوږدوالي سوب ګرځي خو يو څو يې د نمونې په توګه وړاندي کول ضروري ګڼم.

"تور تم" د ډاکټر باقي دراني اوږد نظم دی چي بېلګه يې په دا ډول ده هغه وائي.

"اساطيرو کښي يو چا کړې ښېرا وه
چي ورځه، ورځه، تر توره تيارۀ تېر شي
د بلاؤ پر وطن توره پلا سي شي
د پېريانو په ګير ورشي له ما هېر شي

چي د اور د پاسه اور وورې په هسي
يو تور تم کښې تر آبده پورې اوسي
چي د تل په هر لستوڼي کښي ماران وي
په هم دغه شان عذاب کښې هوري اوسي

ښايي دا ښېرا قبوله هر اهرمن کړه
ځکه اوسم لا تر اوسه په تورتم کښې
ښايې اور د پاسه اور وورې اور تون کښې
اوزه اوسم د هغه اورتورن په شکم کښې"(۴۴)

د ليکني مجلې د نظم په برخه کي د حاجي در محمد کاسي صاحب په ګڼ شمېر کي لنډ او اوږدۀ نظمونه چاپ سوي دي چي د يوۀ نظم"د ستم ګلۍ" يوه بېلګه يې په دا ډول ده هغه وائي.

"اوس د بمونو سور انګار دی دلته
ګرم د سرو چيغو ناتار دی دلته
اوس د بمونو سور انګار په دې ګلۍ ګډيږي
د مئين زړګي سرۀ وينه په نالۍ ګډيږي"(۴۵)

اسرار د طورو په خپل نظم"زه مايوس نه يم د قامه" کي خپل احساسات داسي وړاندي کوي.

"د ويالو نه به درياب شي
په غورزنګ به روانيږي

په منزل د خوشحالۍ به
قافله د قام تېرېږي
اتحاد د قام قوت دی
بې اقباله قام نړېږي
پښتانه مسلمانان دي
د الله په دین نازېږي
نه فرعون ته سرنګون دی
نه قارون ته هوسېږی
په حیسن رضي الله عنه باندي مئین دي
د شهیده قربانیږي"(۴۶)

د ډاکټر محمد همایون هما نظم"د ژوند شاعرور"د اروانښاد سعید ګوهر د تلین په هکله لیکل سوی دی بیلګه یې په دا ډول ده.

"هغه د میني د ښائست هغه د ژوند شاعر وو
هغه فطرت سره همراز هغه بلند شاعر وو
موږ به خوږې خوږې سندري اوس د چا نه اورو
ډېر قدر دانه دانشور ډېر قدر مند شاعر وو
د عالمي ادب ماهر وو هم په ژبه پوه وو
دا یې شعرونو نه ښکاره ده چي ښه مند شاعر وو".(۴۷)

د ډاکټر محمد زبېر حسرت د نظم بېلګه یې په دا ډول ده هغه وائي.

"خو موږ نامراده، نا امیده له حالاتو نه یو
ډیري تودې سړې زموږ په ژوندانه تیري شوې
زموږ مالونه او ځانونه، دوترونه لاړه
موږ په زندان کښي بندیوان په زنځیرونو بند شو
بیا هم مخ روښي شو، د هر آمر جابر په وړاندي".(۴۸)

د ياد سوو اديبانو علاوه د ليکني مجلې په پاڼو کي د وصاف باسط.
ډاکټر فصيح الدين اشرف، رشيد حقمل،ډاکټر نصيب الله سيماب، اسير منګل، عبدالله سرباز، حبيب س،عباس شاه مخلص، رزاق فهيم، جمال الدين مسافر، عبدالمالک زهير، حيات الله حيات، الهام ملاخېل، عادل اڅکزی، سعيد رهبر، داؤد بخت مندوخيل،م-ر-شفيق، اباسين يوسفزی،شير بهادر اڅکزی، عطاالرحمن عطا ،محبوب ګل ياسر، شهيم کاکړ، عبدالقادر مجرم،طارق محمود دانش،عابد زيار مل،ډاکټر عائشه عنايت خان، نازيه خمار (بوری) خاطره فيضي او ډاکټر عصمت بي بي نظمونه هم چاپ سوي دي چي د ليکني د اوږدوالي له کبله يې د بېلګو د وړاندي کولو څخه ډډه سوې ده.

د ليکني مجلې داسي يوه ګڼه نسته چي په هغه کي دي منظوم ادب نه وي چاپ سوي بلکې د ليکني مجلې د "نظم"او"غزل زار" په برخو کي په هر موضوع او د يادو صنعونو د بېلا بېلو قسمونو له لوري پښتو ادب ته وده ورکړل سوې وه چي د ليکني مجلې د پښتو ادب په پر مختګ کي د کردار غمازي کوي.

د درې مياشتنی ليکني مجلې د منظوم ادب تنقيدي جائزه په لنډه توګه په دغه ټکو کي وړاندي کېدای سي لکه

- د ليکني مجلې د منظوم ادب په برخه کي د پښتون وطن د هري سيمي او صنف د شاعرانو کلام او تخليقات چاپ سوي دي.
- په مجلو کي د چاپ د پاره د ادب د شرائطو او د معيار په تول د پوره تخليقاتو انتخاب سوی دی.
- د منظوم ادب له لاري پر بېلا بېلو موضوعاتو مواد چاپ سوي دي.
- په مجله کي د "غزل زار" برخه د نظم په پرتله د موادو او ضخامت په لحاظ غني ده.
- د مجلې په منظومه برخه کي د نظم او غزل د بېلا بېلو ډولونو علاوه حمد ،نعت، رباعياني او قطعات ته هم ځای ورکړل سوی دی.
- د منظومي برخي زياتره تخليقات او موضوعات د علمي ژورتيا او فکري بيداري د را لړزولو صلاحيت لري.

په درې مياشتنی ليکني مجله کي د دغه ياد سوو سرليکونو علاوه د " تصوف، فولکلور او خاکه" په هکله هم ليکني چاپ سوي دي چي د ليکني مجلې د پښتو ادب په پر مختګ کي د روڼ کردار سپيناوی کوي او تفصيلات يې دلته د مقالې د اوږدوالي له کبله د وړاندي کولو څخه ډډه سوې ده.

**پايله**:

په دې مقاله کي چي د درې مياشتنی ليکني مجلې د پنځه کلن(جنوري 2014م څخه تر جون 2018م پوري ) ادبي خدماتو کومه تفصيلي مطالعه او څېړنه د موضوعاتو پر بنسټ وړاندي سوه.د هغې څخه

دا څرګندیږي چي "لیکني" صرف د یوې مجلې نوم نه دی بلکې د یو داسي ادبي تحریک نوم دی کوم چا چي د پښتو ژبې او ادب د ودې او پر مختګ د پاره ډېر د ویاړ او ستائیني وړ کارونه کړي دي.

د لیکني مجلې د اشاعت مقصد د پښتو ژبې و معیاري او تخلیقي ادب ته دوام او وده ورکول دي ولي چي معیار هغه یوازینۍ پېمانه ده د کوم په وجه چي په ډېر لږ وخت کي ډېر لوی واټن پرې کېدای سي او د نړۍ د نورو پر مخ تللو قامونو سره د ادب په ډګر کي د سیالۍ او برابرۍ امکانات راژوندي کیږي.په معیار کي د ژبې او ادب عزت پټ وي او د کومي ژبې ادبي معیار چي څومره لوړ وي په هغه قام کي د علم رڼا هم هغومره زیاته وي.ولي چي علم و انسان ته د مطالعې او مشاهدې لاري و ګودري ور په ګوته کوي.

د لیکني مجلې د اشاعت پالیسي دومره بې پلوه،جانداره او متوازنه ده چي د هیڅ یوې سیاسي او ادبي ډلي یا تنظیم د نصب العېن،شعارونو او پرېکړو نه پیروي او ملا تړ کوي او نه د مجلې په پاڼو کي و هغه لیکنو ته ځای ورکوي چي د پښتون قام د تقسیم در تقسیم سوب ګرځي.د لیکني مجلې د مثبتي پالیسي وجه ده چي د پښتون وطن وتلي،نوموړي لیکوالان او ادیبان خپل تخلیقات،تحقیقات او ادبي پېرزویني په لیکني مجله کي د مقالې،مضمون او څېړني په بڼه کي چاپ کوي.

د لیکني مجلې کتنپلاوی (اېډیټوریل بورډ)د مجلې د ټاکلي تګ لاري او پالیسۍ په رڼا کي نه یوازي د نوي لیکوالانو حوصله افزائي او ډاډګیرنه کوي بلکې هغو ته دا باور هم ورکوي چي ادبي نظریه او معیاري تخیلقات هغه بنیادي محرکات دي کوم چي د ادب په خصوص سره د پښتو ادب د پر مختګ د پاره یوازینۍ او منل سوې لار ده.

لیکني مجلې د ادب د موضوعاتي وېش یعني نظم و نثر په چوکاټ کي پښتو ادب ته د خپلو معیاري ګڼو د زرګونو پاڼو په وسیله دومره لویه پانګه او ذخیره وربخښلې ده چي په راتولونکي وخت کي به په خصوص سره د پښتو ادب او په عموم سره د پښتون کلتور او تاریخ د څېړن کارانو د پاره د ماخذ او حوالې یوه مستنده او بهترینه ذریعه وي.

ډرامې،افسانې،رپورتاژ،طنزومزاح،دبهرنۍنړۍدادبیاتوژباړي،نظمونه،غزلونه،هائیکوګاني،قطعات او رباعیات د لیکني مجلې د ګڼې اړخیزي ادبي مجلې ګواهي ورکوي او د مجلې په فني او معنوي ښائست کي د زیاتوب سوب ګرځي.په لیکني مجله کي د کلتوري.تاریخي.فکري او علمي مقالو خپرېدل د پښتو ادب د پر مختګ د پاره نیک فال او د روښانه سباؤن زېری دی.

لیکني مجله که یو خوا د ژبپوهني،لیک دود ،قامي تاریخ او کلتور د مثبت اړخ د رابرسېره کولو په اړه مثالي او تحقیقي مقالې چاپوي خو بل خوا یې د پښتون قام د مخورو مشرانو،ادیبانو او لیکوالانو د ژوند او کار په هکله هغه بې مثاله تحقیقات ادبي نړۍ ته وړاندي کړي دي.چي په تیرو وختو کي یې امکانات لاهم نه وو.

د لیکني مجلې د علمي،فکري،تعمیري،اصلاحي،تحقیقي،تنقیدي او تخلیقي ادب قیمتي پانګه او ذخیره د دې خبرې پخلی کوي چې یوه مجله په غیر سیاسي توګه او د ادب د نظریاتو د تضاد په تناظر کې هم داسې مواد چاپولای سي چې هغه د ادب د عصریزو غوښتنو ملا تړ کوي او د خپل اولس د ذهني پراختیا او د شعور د پیاوړي کولو صلاحیت لري.

د لیکني مجلې د موضوعاتو د څېړني په رڼا کې مونږ دا په ډاډ ویلای سو چې درې میاشتنۍ لیکني مجلې د پښتو ژبې،ادب،کلتور او تاریخ د روزني،پالني او پر مختګ د پاره ډېر مهم کردار ادا کړی دی.د اجراء په وسیله یې و پښتو معیاري ادب ته یو نوی ژوند ور نصیب سو.نوي نوي موضوعات د پښتو ادب پر آسمان د ستورو په څېر وبرېښېدل،پښتو ژبي نوي لیکوالان او لوستونکي پیدا کړل او د پښتنو یې د خپلي ژبي سره د میني او محبت داسي جذبات راولړزول چې د هغو په وجه پښتو ادب په دې وتوانېدی چې د بهرنۍ نړۍ د ادبیاتو سره په روایتي او جدید ادبي اصنافو کي سیالي وکړي.

## حوالې


(۱) سيال، غازي، خطونه،(جلد ۳،شماره ۱۵-۱۶، اکتوبر ۲۰۱۴-مارچ ۲۰۱۷)،درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه، مخ ۳۲۹

(۲)ياسر،محبوب ګل، خطونه،همدغه اثر، مخ ۲۲۳

(۳)مدير اعلیٰ،اداريه،(جلد ۱،شماره ۴، جنوري –مارچ ۲۰۱۴)،درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه،مخ ۵

(۴)مدير اعلیٰ،اداريه،(جلد ۱، شماره ۵، اپريل- جون ۲۰۱۴)،درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۵

(۵) مدير اعلیٰ،اداريه،(جلد ۲، شماره ۱۱، اکتوبر-دسمبر ۲۰۱۵)، درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۵

(۶) مدير اعلیٰ،اداريه،(جلد ۳، شماره ۱۹-۲۰، اکتوبر ۲۰۱۷،مارچ ۲۰۱۸)،درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۶

(۷) مدير اعلیٰ،اداريه،(جلد ۲، شماره ۹، اپريل- جون ۲۰۱۵)،درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۶

(۸) کاکړ،همايون، مولوي، د قرآن او حديث په رڼا کښي د شعر حيثيت،(جلد ۲، شماره ۱۱،اکتوبر-دسمبر ۲۰۱۵)،درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۹۸

(۹) رفيقي،ډاکټرعبدالرؤف، د پښتو ادب درويشان او فقيران،(جلد ۲، شماره ۱۲، جنوري- مارچ ۲۰۱۶)،درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۵۷-۵۸

(۱۰) عامر،عبدالکريم،په داتا ګنج بخش کتابتون کښي د پښتو قلمي نسخې،(جلد ۲،شماره ۱۳، اپريل –جون ۲۰۱۶)، درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني ،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۹۱-۹۲

(۱۱) ارمان،سميع الدين،پښتو کښي نا تخليقي شاعري،(جلد ۳، شماره ۱۹-۲۰،اکتوبر ۲۰۱۷، مارچ ۲۰۱۸)، درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني ،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۵۸

(۱۲) اپريدی،قيصر،ارمان في الميزان،(جلد ۳، شماره ۲۱،اپريل- جون ۲۰۱۸)، درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني ،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۷۰-۷۱

(۱۳) سيال غازي، د پښتو سندره،همدغه اثر،مخ ۵۱

(۱۴) کاسی،در محمد،پاونده، (جلد ۲، شماره ۱۲، جنوري- مارچ ۲۰۱۶)، درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني،پښتو اکېډيمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۶۶

(۱۵) خټک، ماښام، پوزه، (جلد ۱، شماره ۴، جولائي- ستمبر ۲۰۱۴)، درې مياشتنۍ پښتو مجله ليکني ،مخ ۱۶۷

(۱۶) بېتاب،ګل محمد ، د چرچڼو توت،(جلد ۲، شماره ۱۲، جنوري- مارچ ۲۰۱۶)، درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۸۲
(۱۷) بنګش،سلیم،جرګه،(جلد ۳، شماره ۱۴، جولائي- ستمبر ۲۰۱۶)، درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۹۱
(۱۸) کاکړ،برکت شاه،ډاکټر،ځه توکل که عطر پوري که وور ولګوه،(جلد ۲، شماره ۹، اپریل- جون ۲۰۱۵)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۰۰
(۱۹) باور،خلیل،عقل،(جلد ۲،شماره ۱۱،اکتوبر- دسمبر ۲۰۱۵)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۵۸
(۲۰) احمد،رشید،پښتو ناول،(جلد ۲، شماره ۱۰، جولا ئي- ستمبر ۲۰۱۵)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۷۲
(۲۱) حسرت،زبېر،ډاکټر،ډرامه څه ته وائي(ژباړه)،همدغه اثر، درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه مخ ۱۶۸
(۲۲) باور،خلیل،ژبه،(جلد ۲، شماره ۹،اپریل-جون ۲۰۱۵)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۸۰،۷۹
(۲۳) کاکړ،برکت شاه،ډاکټر،خیاطه ماته که واسکټ راجوړوې،(جلد ۲، شماره ۱۲، جنوري تا مارچ ۲۰۱۶)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۹۶
(۲۴) ګوهر،سعید، د غاړو ادبي څېړنه،(جلد ۱،شماره ۶، جولائي- ستمبر۲۰۱۴)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۷۳
(۲۵) داؤد زی،ارمان سمیع الدین، د مولانا روم مثنوي معنوي،(جلد ۳،شماره ۱۵-۱۶، اکتوبر ۲۰۱۶،مارچ ۲۰۱۷)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۵۸
(۲۶) علیل،نادر خان، د قیوم مروت نهم لیونی،(جلد ۳،شماره ۲۱،اپریل-جون ۲۰۱۸)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۹۲
(۲۷) سیماب،ډاکټر نصیب الله، کابل ته مه وایه چي رنګ شې،همدغه اثر، درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۷۵
(۲۸) سیماب،ډاکټر نصیب الله، کابل ته مه وایه چي رنګ شې،(جلد ۳،شماره ۱۹، اکتوبر ۲۱۰۷،مارچ ۲۰۱۸)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۴۱
(۲۹) زیارتوال،ذاکر،قصه،(جلد ۳، شماره ۲۱،اپریل –جون ۲۰۱۸)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۵۹
(۳۰) باور،خلیل، د شاعرۍ په حق کښې،(جلد ۳،شماره ۱۴، جولائي-ستمبر ۲۰۱۶)، درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۱۹

(۳۱) میاخیل، بارکوال، د بحث بایللی هنر،(جلد ۲، شماره ۱۲، جنوري، مارچ ۲۰۱۶)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۰۶
(۳۲) عارف، سید خیر محمد ،د سعید ګوهر شاعري او نوي تجربې،(جلد ۱،شماره ۵، اپریل- جون ۲۰۱۴)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۲۲
(۳۳) بنګش،سلیم،قیوم مروت،(جلد ۳، شماره ۲۱، اپریل- جون ۲۰۱۸)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۹۰
(۳۴) تبسم،عارف، سید خیر محمد عارف یو ریښتنی لیکوال او سپېڅلی انسان،(جلد ۲ ، شماره ۹، اپریل-جون ۲۰۱۵)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه،مخ ۷۸
(۳۵) سهیل جعفر،غزل زار،(جلد ۱،شماره ۵،اپریل- جون ۲۰۱۴)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۰۹
(۳۶) درانی،ډاکټر باقي،غزل زار،(جلد ۲، شماره ۱۰، جولائي،ستمبر ۲۰۱۵)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۱۶
(۳۷) عابد ، شاه عابد ،سید ،غزل زار،(جلد ۲،شماره ۹، اپریل-جون ۲۰۱۵)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۱۲
(۳۸) سیماب،نصیب الله،ډاکټر،غزل زار،(جلد۳، شماره ۱۴، جولا ئي- ستمبر ۲۰۱۶)، درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه، .مخ ۲۳۹
(۳۹) منګل،اسیر،غزل زار،همدغه اثر،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه مخ ۲۲۵
(۴۰) باور،پروفیسر خلیل، غزل زار،(جلد۲، شماره ۱۳، اپریل –جون ۲۰۱۶)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۱۳
(۴۱) بنګش،سلیم،غزل زار،(جلد ۳،شماره ۱۵-۱۶، اکتوبر ۲۰۱۶،مارچ ۲۰۱۷)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۳۰۴
(۴۲) حیات، حیات الله،غزل زار،(جلد ۳، شماره ۲۱، اپریل-جون ۲۰۱۸)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۰۳
(۴۳) مروت، عمر دراز،غزل زار،(جلد ۲، شماره ۱۲، جنوري- مارچ ۲۰۱۶)، درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۱۲
(۴۴) درانی،ډاکټر باقي،تورتم،(جلد ۲، شماره ۸، جنوري- مارچ ۲۰۱۵)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۹۵
(۴۵) کاسی،درمحمد ،د ستم ګلۍ،(جلد ۳، شماره ۱۴، جولائي-ستمبر ۲۰۱۴)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني، پښتو اکېډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۲۴

(۴۶)د طورو،اسرار،زه مایوس نه یم د قامه،(جلد ۱، شماره ۶، جولائي- ستمبر۲۰۱۴)، درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۱۹۴
(۴۷) هما،محمد همایون، دژوند شاعر وو،(جلد ۲، شماره ۹،اپریل-جون ۲۰۱۵)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۱۵
(۴۸) حسرت، ډاکټر محمد زبیر،نظم،(جلد ۲، شماره ۱۰،جولائي- ستمبر ۲۰۱۵)،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمۍ بلوچستان کوټه ،مخ ۲۲۲